آیا سعادت و خوشبختی در خشوگذرانی‌های مادی است؟

بعضی اینطور گمان کرده اند می‌پندارند که خوشبختی در ثروتمندی و در زندگی آسوده و مرفه و فراوانی ساز و برگ است. اما کشورهایی که سطح زندگی مردم در آن‌ها خیلی بالا است. و همهٔ مایحتاج زندگی مادی و جسمانی مردم برایشان آماده و فراهم است، با آن همه خوراک، پوشاک، مسکن، وسیله نقلیه، تجملات و اشیاء فراوان، همچنان از بدبختی در زندگی شکایت دارند، و احساس تنگی و گرسنگی می کنند، و در جستجوی راه دیگری به سوی خوشبختی هستند.

آمریکا نیز ثروتمندترین کشور جهان است. اما، با آن همه موشک‌های قاره‌پیما، سفینه‌های فضایی، و طلا و ثروتی که در این کشور از آسمان و زمین می‌بارد و می‌جوشد، هرگز نتوانسته است شهروندان آمریکایی را به «خوشبختی» برساند! و می‌بینیم که بعضی اندیشمندان آمریکایی از قبیل استاد کولن ویلسون، می گوید «در نیویورک، زندگی پر زرق و برق چشمگیر شهر سرپوش زیبایی است برای بدبختی‌ها و درماندگی مردم!» این درماندگی و بدبختی مردم مغرب زمین را کسانی که چشم بینایی داشته اند؛ چه از غربی‌ها و چه از شرقی‌ها مورد بررسی و تحلیل قرار داده اند. در شرق، شهید بزرگ سید قطب این مطالب را در کتابی (که به تازگی به فارسی ترجمه و منتشر شده است) به نام امریکا از دیدگاه سید قطب آورده است. در غرب نیز، ادیب فرانسوی خانم فرانسواز ساژان دوباره از نیویورک دیدن کرده و پس از آن در سفرنامه‌اش نوشت: «نیویورک بار سنگینی بر دوش انسانیت است. قلب این شهر بسیار بسیار تندتر از ضربان قلب ساکنان می‌زند در حقیقت بحرانی که ساکنان نیویورک از آن رنج می‌برند یک بحران عاطفی است. خون فوار در رگ و پی و عضلات این آمریکاییان دردمند و واماندهٔ شتابزده و دائم جریان دارد. اهالی نیویورک اصرار عجیبی برای صرفه‌جویی وقت از خودشان نشان می‌دهند، اما نمی‌دانند وقت‌های اضافی را که از آن صرفه‌جویی‌ها به دست می‌آورند، چگونه بگذرانند!»

نتیجه می گیریم که دارایی و ثروت و مال و مکنت نه عین خوشبختی است و نه عنصر اصلی سعادت چه بسا که مال فراوان مایهٔ وزر و وبال صاحبش هم در دنیا و هم در آخرت می گردد. همین جهت، خدا در بارهٔ گروهی از منافقان می گوید:

﴿فَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا﴾

«پس دارایی‌ها و فرزندان‌شان تو را شیفته نگرداند! خدا می‌خواهد با همین مال و مکنت و خانمان در زندگانی دنیا شکنجه شان دهد» (توبه: ۵۵).

عذاب و شکنجه‌ای که در این آیه مطرح می‌شود، همان سختی‌ها و فشارها و ناراحتی‌های روح و غم و غصه‌ها و دردها و بیماری‌هایی می‌باشد که انسان در این زندگی دنیا با آن‌ها دست به گریبان است. و این عذابی است در زندگی دنیا. همچنانکه در حدیث آمده است: «سفر پاره‌ای از عذاب است». این‌ها چیزهایی هستند که ما با چشمان خودمان مشاهده می کنیم در زندگی کسانی که ثروت و مکنت دنیا را بزرگترین آرمان خودشان قرار داده اند نشان‌دهنده سطح علم و معرفت‌شان و نهایت آرزو و مطلب‌شان است! این آدم‌ها پیوسته دچار عذاب درونی و درد و رنج و سنگینی روحی و تیرگی روان اند. به کم قانع نمی‌شوند و به زیاد هم سیر نمی گردند.

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمني، چهار راهی حاجي محمد داد، سرک ۴، دفتر مرکزی جمعیت اصلاح. تیلفون: ۰۷۹۹۳۹۴۰۱۵/ ۰۲۰۲۲۰۴۳۰۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار: موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهر نو، چهار راهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. ۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر، ۷۷۸۸۷۰۳۰۵

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون، مارکیت الله نظر منزل ۲ دوکان ۲۳/ . ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، د محاکمو ریاست شاته چهل متره سرک، بنی لاس، څلورمه کوڅه، لومړی کور د جمعیت اصلاح دفتر (ابو یوسف تعلیمی مرکز) تیلفون: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

× د شیرین دل پلازې لاندې پوړ، نقیب کتاب پلورنځی. تیلفون ۰۷۷۲۸۲۸۶۴۹/ ۰۷۰۰۹۵۶۴۲۳

کندهار: شهر نو هرات سرک خوشبخت صالون ته مخامخ سوري مینه د جمعیت اصلاح دفتر تیلفون: ۰۷۰۰۳۰۸۲۷۱ / ۰۷۰۰۶۶۸۹۴۸

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ تیلفون: ۰۷۹۹۴۴۲۹۲۰

هرات: سرک بانک خون، جادهٔ مسجد جامع باغچهٔ مهتر، انجمن اخلاق و معرفت ۲۳۵۵۹۰ – ۰۷۰۰۴۳۰۲۳۳ – ۰۷۹۹۲۰۶۱۹۷ – ۰۷۹۹۱۰۹۰۷۳

بلخ: عقب حمام سره میاشت، مرکز تعلیمی اصلاح ۰۷۹۹۶۹۴۲۴۵

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوګر: مرکز، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع، کتاب فروشی سادات، سید عبدالحمید هاشمی، تیلفون: ۰۷۰۰۰۴۴۹۸۱

لوګر: محمدآغه، واغجان بازار، پهلوی کلنیک حسین خیل، تیلفون: ۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیا: د ګردیز ښار، مرکزي چوک، د نـي نماینده‌ګی وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان ټاور شاته خوست مرکزی طبی لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوی دفتر ډاکټر محمد ګلاب: ۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶/ ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: ۰۷۰۰۳۰۱۹۴۸

فراه: جاده مخابرات دست راست مرکز علمی و فرهنگی توحید ۰۷۰۳۲۰۲۰۴۴

کونړ: د معارف ریاست ته مخامخ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر

پیښور: مرکز فرهنگی اسلامی افغانستان/ تیلفون: ۰۹۱۵۸۵۲۷۹۵

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش نشرات و فرهنگی

هفته‌نامه اصلاح ملي اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

www.eslahonline.net

دليکوال پلاوي تر نظر لاندي

دامتياز خاوند:

جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان

رئیس هیأت تحریر:

عبدالفتاح جواد

مدیرمسئول:

نقيب الله حمید 0774327438

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

دیزاینر: محمد مسلم حریر
Mob:0788298571

سرمقاله

دافغانيو اسعارو ارزښت، مالي فساداوبهرنۍ لوبه

په هېواد کې دبهرنيانو له دولس کلن شتون نه وروسته نن هم افغان ولس دفقر او لوږې ژوند تېروي او داعلان شوو ميلونونو ډالريزو مرستو سره سره، بيا افغانستان لاوران دی، او تر اوسه يې داسې بنيادي رغونه نه ده شوې چې دامید سترګې وروګرځي.

له څه مودې راهيسې دافغانيو ارزښت ورځ تر ورځ راټيټېږي او سره له دې چې حکومت او بهرنيان ددولس کلنو لاسته راوړنو خبرې کوي، او دهېواد داقتصادي ثبات او ترقۍ ډنډورې غږوي، په افغانستان کې غريب لاپسې دغريبۍ پر لو روان دی او دڅو ګوتو په شمار کسانو او ډلو نه پرته، نور ټول ملت دخوارۍ شپې ورځې تېروي.

داڅرګنده خبره ده چې دافغانيو دارزښت کمېدو لويه وجه په حکومت او بهرنيو خواوو کې دپراخه مالي او اداري فساد شتون دی، او اکثره څه چې ټولې دولتي ادارې په دې فساد کې ښکيل دي.

که څه هم تېر کال افغانستان بانك ادارې دافغانيو دقيمت دلوړ ساتلو په موخه ځينې پريکړې کړې وې، چې په هغو کې دا ژمنه شوې وه، بايد په هېواد کې ټول قراردادونه (د ډالرو پرځای) په افغانيو وشي، همدا راز په بازارونو او راکړه ورکړه کې بايد خارجي اسعار استعمال نه شي، افغاني بانکونه بايد له هېواد نه بهر سرمايه ونه لګوي او له حاجيانو نه به دحج مصارف د افغانيو په بڼه اخيستل کېږي، خو داخبرې يوه هم عملي نه شوه او پخپله حکومت دا ټولې خبرې تر پښو لاندې کړې.

دځينو منابعو په حواله، دافغانستان خصوصي تقريبا څلور ميلونه پانګونه کړې ده، چې له دې له ۲۰ فيصده زياته يې له هېواد نه بهر ده.

بلخوا په تېرو ۱۲ کلونو کې اکثره خصوصي بانکونه د (مافيايي) ګروپونو له لوري په لار واچول شول، او هدف يې يوازې دخپلو جيبونو ډکول او نورو هېوادونو ته دسرمايي انتقال وو. او اکثره خصوصي بانکونه دهمدې دولس کلنې دورې دمافيايي ډلو او ياهم حکومتي لوړ پوړو چارواکو په شراکت تاسيس شويدي.

دهېواد دروان کال بوديجه تقريبا ۸ ميلیارده ډالره ده او دځينو سروېګانو له مخې تېر کال تقريبا څه کم دوه ميلیارده ډالره په افغانستان کې درشوت په بڼه ښکته پورته شوي دي، چې په حکومتي ادارو او خصوصي شرکتونو او بهرنيو مؤسسو کې مالي فساد له دې شمېرې نه پرته دی.

بلخوا اکثره حکومتي چارواکي، دمشرانو او ولسي جرګو ځنې غړي، دسياسي ډلو مشران او دقدرت خاوندانو کورنۍ له هېواد نه بهر ژوند کوي، او هره مياشت په ميلونونو افغانۍ په نورو اسعارو بدلېږي او همدا کسان يې بهر ته انتقالوي، چې په دې سره هم دافغانيو ارزښت ورځ تر ورځ را لويږي.

نن دهېواد حکومتي او اکثره غير حکومتي ادارې ديوه هېواد دنظام تر سيورې لاندې نه، بلکې په مفايايي بڼه چلېږي او په دې کار کې دبهرنيانو هم پوره لاس او ونډه ده.

دځينو په اند دولسمشر کرزي او بهرنيانو (په ځانګړې توګه امريکا) تر منځ نانددريو او تاوتريخوالي په وجه، امريکا غواړي ترڅو پر افغان حکومت فشار نور هم زيات کړي، او د IMF او نورو په مرسته دهېواد اقتصادي سيستم نور هم بې ثباته کول غواړي، ترڅو کرزی دامريکا دنورو غوښتنو منلو ته اړ باسي.

د ګوشتې پېښه: پردۍ دسیسې، کمزوري حکومتونه او ویښ ولسونه!

عبد الفتاح جواد

له ځو کلونو راهیسې د کونړ ولایت په سرحدي سیمو باندې دپاکستان له لوري توغندي راویشتل کیږي، افغان حکومت له پاکستان سره په مستقیمه او غیرمستقیمه توګه، په وار وار دغه موضوع مطرح کړې، خو هیڅ ګټه یې نده کړې.
په سیمه کې میشت د ناټو ځواکونه هم غوږ نه ګروي او پدې اړه هیڅ اقدام نه کوي، او نړیواله ټولنه هم خاموشه ده او هیڅ نه وایي، چې دا ټول ددې ښکارندویه دي، چې په دغه سرحدي شخړه کې د پاکستان د حکومت ترشا نړیوال توطیه ګر لاسونه هم شتون لري، ترڅو په لوی لاس د افغانستان او پاکستان ترمینځ داسې اوږدمهاله شخړه او جګړه رامینځته کړي، چې زمونږ دواړو هیوادونو نسلونه، نسلونه یې د اور په تاو کې ستي شي.
اوس په دغه راز یوه بد او ناوړه حالت کې چې افغانستان له دریو لسیزو نه زیات مهال د جګړو او ناکراریو په اور کې سوځي او پاکستان هم ورځ تر بله له ناامنیو او لانجو سره لاس تر ګریوان کیږي. یوځل بیا د پاکستان پوځ د ننګرهار ولایت د ګوشتې ولسوالۍ په سرحدي سیمه کې د نویو پوستو د جوړولو او څو کیلومتره افغانستان ته د راننوتلو له امله یوه داسې شخړه او ان وسلواله جګړه رامینځته کړه چې د دواړو لوریو سرتیرو ته پکې مرګ ژوبله واوښتله ، چې دغه کار د اسلام، عرف، نړیوالو قوانینو او ګاونډیتوب ته د درناوي سره ضد یو عمل وو.
مونږ دافغانستان په خاوره د پاکستان د پوځ تیری داسې غندو لکه د امریکا او ورسره همغږو هیوادونو د پوځونو تیری مو چې غندلی دی او لایې هم غندو.
پر ګوشته او د کونړ پر سرحدي سیمو کې د پاکستان لخوا وسلوال بریدونه او راکټونه ویشتل او پر پوله تیری دهغه هیواد د پوځ او حکومت یوه سیاسي لوبه ده چې په دې سره غواړي ترڅو افغان حکومت په سرحدي ستونزه او دډیورنډ پر مسئله له هغوی سره خبرو ته کښینې او په هر اړخیزه توګه له دډیورنډ کرښه ددایمي سرحد په توګه ومنې.
خو پدې هم ډاډه یو چې دا کارونه د هغوی په خپله اراده او نیت سرته نه رسیږي، بلکې نړیواله ټولنه هم ورسره ګام په ګام ولاړه ده، که نه نو حیرانوونکې خبره ده چې د افغانستان د حکومت د ولسمشرۍ د دفتر رئیس عبد الکریم خرم وایي چې دغه پوستې له ایساف یا نړیوالو بهرنیو ځواکونو سره وې او بیا هغوی په خپل سر پاکستاني ځواکونو ته سپارلې دي، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند جانان موسی زي هم په ډاګه وویل چې پاکستاني ځواکونو ته د ګوشتې ولسوالۍ په سیمه کې د پوستې او دروازې جوړولو اجازه ناټو ورکړې ده، خو ناټو اعلان کوي چې مونږ په دغه قضیه کې بې طرفه یو.
د پاکستان د پوځ د تیري په اړه چې د هیواد په لر اوبر کې کوم ولسي پاڅونونه روان دي، دا مثبته پدیده ده او ددې څرګندویه ده چې ولس له هیواد او خاورې نه د دفاع لپاره همیشه چمتو او تیار ناست دی او خپل مسئولیت ادا کولی شي، خو دې ته هم باید متوجه وو چې د ولس ددې سپیڅلو جذباتو نه هغه څوک ناوړه ګټه پورته نه کړي چې تردې وړاندې په افغانستان باندې د نوروهیوادونو په تیریو خاموشه وو.
دلته څو خبرې واضحه او څرګندې دي:
ـ دغه تاوتریخوالی استعمار پیدا کړی دی او د افغانستان او پاکستان د مسلمانو هیوادونو ترمینځ همیشنی تاوتریخوالی او سرحدي جګړه پیدا کوي او دا واضحه ده چې ددواړو هیوادونو مسلمان ولسونه (چې په دغه تاوتریخوالي کې دخیل ندي) شرعي مکلفیت لري چې په حکمت او بصیرت سره ددغې توطیې مخه ونیسي.
دا یوازې د نن خبره نه ده، بلکې استعمار په تاریخي لحاظ همدغه سیاست په لاره اچولی دی چې تفرقه واچوه حکومت وکړه، اسلامي خلافت یې په همدغه وسیله له مینځه یووړ، چې امت یې د (امة واحدة) له قرآني تصور نه بیګانه کړ، په قومونو او هیوادونو یې وویشه، خلافت یې ورته نسکور کړ او بیا یې هر هیواد د یوه غربي هیواد په ولکه کې ورکړ، چې تر اوسه پرې هماغه غربي فکري، ساسي، اقتصادي او کلتوري سیوری او اغیزې موجودې او حکومتونه دهمغو پخوانیو او نیو استعمارچیانو تر مخامخ تاثیر لاندې دي.
دا ځل هم امریکا او ورسره ملګرو همدغه سیاست په مخ کې نیولی دی چې د اسلامي امت یو جسد د خپلو مزدورو او تپل شویو واکمنانو له لارې پر بیلابیلو ټوټو وویشي، چې هره یوه یې د بلې پر خلاف مورچل نیسي، مسلمانان مسلمانان په خپلو مینځونو کې سره بې اتفاقه وي او پردي پرې واکمن واوسي.
-له امریکا سره د افغان حکومت ستراتیژیک تړون مونږ لا له وړاندې رد کړی دی او اوس یې هم نه منو او د ګوشتې سیمه کې په تاوتریخوالي کې د امریکا بې پرې توب ثابته کړه چې دغه تړون افغان لوري ته هیڅ ګټه نلري او یوازې او یوازې امریکا دخپلو ګټو او پر سیمه باندې دکنټرول په موخه دا تړون له افغانانو سره لاسلیک کوي

دکتور مصباح الله :

امریکا غواړي د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټکر راپیدا کولو له لارې پاکستان له هند سره د ټکر نه راوباسي او هند د چین د مهار کولو لپاره وکاروي

- پر افغانستان د هر تیري په وړاندې باید همداسې قوي عکس العمل وښودل شي هغه که د امریکایانو تېری وی، که دپاکستان او یا نورو هېوادونو.
- احساسات ښه دي، خو ټول مسائل په احساساتو نه حل کېږي، باید د افغانستان د تقویې او په خپلو پښو د ودرېدلو لپاره کوښښ وشي.

دافغانستان اوپاکستان تر منځ سرحدي شخړو او دګوشتې په ولسوالۍ کې ددواړو هېوادو پوځي نښتې ، د رسنیو اوسیاست مدارانو لپاره د بحث ګرمه موضوع را پیدا کړې ده، دا چې ددې شخړو تر شا موخې او اهداف څه دي او کوم لاسونه په څه ډول دغه شخړو ته لمن وهي، اصلاح رسنیز ګروپ دا ټول په یوه مرکه کې له دکتور مصباح الله سره چې د جمعیت اصلاح دمرکزي شورا غړی، د پوهنتون استاد او د ستراتیژیکو اوسیمه ییزو څېړنو مرکز علمي غړی دی، څېړلې چې دادی تاسو درنو لوستوالو ته وړاندې کېږي. اداره

مرکه : احمد ضیاء رحیمزی

اصلاح : لکه چې ګورو د افغانستان او پاکستان سرحدي شخړې بالاخره په پوځي جګړه واوښتې، ستاسې له نظره ددې قضیې تر شا اصلي لاملونه څه دي او پاکستان ددې جګړې له پیلولو څخه څه اهداف لري؟

دکتور مصباح: زه تر ټولو لومړی له اصلاح رسنیز ګروپ نه مننه کوم، چې دا فرصت یې برابر کړ، چې د اوسنیو حالاتو په اړه سره خبرې وکړو، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د شخړو پر لاملونو تر پوهېدلو مخکې باید په دې پوه شو، چې د اسلامي ملتونو ترمنځ اساساً د حسن همجواری او ښه ګاونډیتوب رابطه وي، خو په پاکستان او افغانستان کې داسې حکومتونه او داسې نظامونه په واک کې دي، چې دواړه د امریکا په محور راڅرخي، دا چې داسې قضایا، چې هغه د افغانستان او پاکستان د مشکلاتو د زیاتولو لپاره دا شخړې رابرسېره کېږي پدې اړه د امریکایانو اصلي تصور دا دی، چې په نړۍ کې خپله سلطه برقراره وساتي، د هغوی تصور دا دی، چې باید د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټکر فضاء راپیدا کړي اوپدې توګه پاکستان له هند سره د ټکر نه راوباسي او هند د چین لپاره فارغ کړای شي، چې هلته د چین د مهار کولو لپاره دا ضرور ده، چې هغوی د هند سره په ټکر کې واقع شي، د همدې لامله ځو ورځې مخکې یو وړوکی خبر په رسنیو کې راغی، چې

چین د هند په مقابل کې څواك استعمالولی شي، یا پوځ استعمالولی شي.

پدې توګه ویلای شوچې د افغانستان او پاکستان اوسنۍ شخړه د یو لویې لوبې برخه ده، چې غواړي دلته په مسلسله توګه داسې تشنجات او ستونزې را پاکستان په دې حالاتو کې غواړي، چې خپل سرحدونه یا سرحدي پوستې را وخوځوي، او د افغانستان په خاوره کې خپل تاسیسات جوړ کړي، تر څو په رسمي شکل د ډیورنډ قضیه را پورته کړي او په داسې یو حالت کې چې په افغانستان کې یو نماینده حکومت شتون نه لري، قوي پارلمان شتون نه لري، په پوځي او عسکري ضعیف حالت کې ژوند کوي، هغوی غواړي دلته یوه شخړه جوړه شي، او نړیوال ځواکونه په افغانستان هم فشار واچوي، چې باید دا

سرحدي مسئله حل شي او چې حل کېږي نو هغه به هم په داسې شکل حل کېږي، چې په هغه کې به افغانستان او دافغانستان ملت او خلکو ته تاوان رسېږیا بجاډېږي، پاکستان او افغانستان سره په ټکر کې واقع شي او هند د پاکستان له اړخه تر ډاډمنېدو وروسته د چین لپاره فارغ کړای شي، او چین په را تلونکې کې د هند لپاره د خطر مصدر نه وي. مونږ ګورو، د افغانستان د دولت لوړ پوړو چارواکو ددې اظهار وکړ، چې د ګوشتې په سیمه کې چې کومه منطقه وه، او اسو پاکستاني ځواکونو په کې پوستې جوړې کړې دي، هغه د ناټو لخوا پاکستاني ځواکونو ته سپارل شوي دي خرم صاحب چې د رئیس جمهور د دفتر رئیس دی دا خبره په وضاحت کړې ده، یعنې غربیان قصداً دا مسئله را ایجاد کړې شوې ده، بله خبره دا ده، چې پاکستان په دې حالاتو کې غواړي، چې خپل سرحدونه یا سرحدي پوستې را وخوځوي، او د افغانستان په خاوره کې خپل تاسیسات جوړ کړي، تر څو په رسمي شکل د ډیورنډ قضیه را پورته کړي او په داسې یو حالت کې چې په افغانستان کې یو نماینده حکومت شتون نه لري، قوي پارلمان شتون نه لري، په پوځي او عسکري ضعیف حالت کې ژوند کوي، هغوی غواړي دلته یوه شخړه جوړه شي، او نړیوال ځواکونه په افغانستان هم فشار واچوي، چې باید دا سرحدي مسئله حل شي او چې حل کېږي نو هغه به هم په داسې شکل حل کېږي، چې په هغه کې به افغانستان او دافغانستان ملت او خلکو ته تاوان رسېږي، او هغه مصالح چې په هغو کې د افغانستان ګټې خوندي دي هغه به ضایع کېږي، نو زه فکر کوم، چې دا دوه بنیادي اسباب دي، چې د شخړې لامل شوي دي.

اصلاح: په داسې حال کې، چې د افغانستان او امریکا ترمنځ ستراتیژیك تړون لاسلیك شوی او د هغې له مخې به دوی د هر بهرني یرغل په وړاندې د افغانستان څخه دفاع کوي، او اوس مونږ ګورو چې پاکستاني ځواکونه د افغانستان خاورې ته دننه راغلي دي او امریکا په داسې حال کې ځان بې طرفه بولي، ستاسې په اند په داسې حالاتو کې د ستراتیژیك تړون ګټه څه ده؟

دکتور مصباح: چا چې هم تر اوسه پورې دامریکا او یا نورو هېوادونو په داسې چا چې هم تر اوسه پورې دامریکا او یا نورو هېوادونو په داسې تړونونو تکیه کړې ده، هغه ډوب شوي دي، هغوی تاوان کړی دی، دا تړونونه د کمزوري او نا توانه ملك او د امریکا په شان د نړیوال ځواك لرونکي هېواد ترمنځ دا بې معنا او بې مفهومونه تړونونه دي او ددې لپاره نه دي، چې امریکا به د افغانستان د ګټو څخه دفاع کوي، هغه اصلاً ددې لپاره دي، چې امریکا په څه ډول افغانستان د خپلو ګټو لپاره استعمال کړي،تړونونو تکیه کړې ده، هغه ډوب شوي دي،

هغوی تاوان کړی دی، دا تړونونه د کمزوري او نا توانه ملك او د امریکا په شان د نړیوال ځواك لرونکي هېواد ترمنځ دا بې معنا او بې مفهومونه تړونونه دي او ددې لپاره نه دي، چې امریکا به د افغانستان د ګټو څخه دفاع کوي، هغه اصلاً ددې لپاره دي، چې امریکا په څه ډول افغانستان د خپلو ګټو لپاره استعمال کړي، همدغسې تړون د پاکستان او امریکا ترمنځ هم وجود درلود، کله چې په ۱۹۷۱ کې هند د پاکستان په یوه برخه یعنې بنګله دېش تېری وکړ، هغه یې لاندې کړه او تر آخره پورې دا اوازه وه، چې د امریکا بحري پوځي بېړۍ را روانه د ه خو هغه بېړۍ تر ننه را ونه رسېده، د امریکا تړونونه د نورې نړۍ سره ټولو ته معلوم دي چې صرف د فرېب او دوکې لپاره او ددې لپاره چې وکړای شي، هغه کمزوري جهتونه لکه افغانستان او نور د خپلو ګټو لپاره استعمال کړي.

د ددې لپاره نه دي، چې د افغانستان د ارضي تمامیت څخه دفاع وکړي اودا داامریکا لپاره مکنه نه ده، د امریکا اړیکې د پاکستان سره د افغانستان په نسبت ډېرې قوي دي او پاکستان د افغانستان په نسبت ډېر اهمیت لري، نو له همدې امله دا تړونونه بې فایدې دي او مونږ دا ډېر مخکې رد کړي و.

اصلاح: سره ددې چې په افغانستان کې د ګڼ شمېر بهرنیو هېوادونو عسکر شتون لري، او بېلابېل هېوادونه په مختلف ډول د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخله کوي، ستاسو په اند ولې د افغانستان او پاکستان ددې ستونزې په وړاندې افغان ولس دومره ستر غبرګون اوحساسیت وښود؟

دکتور مصباح: اساساً پر افغانستان چې هرڅوك تېری کوي، باید په وړاندې یې همداسې قوي عکس العمل وښودل شي هغه که د امریکایانو تېری وی، که دپاکستان او یا نورو هېوادونو، دافغانستان په خاوره د پاکستان تېری باید په کلکه وغندل شي، خوستونزه داده چې خلك یې بنسټیز لامل ته متوجه نه دي، هغه دوه لاملونو ته چې مونږ مخکې اشاره وکړه که هغې ته ځیر شو، مثلا که پاکستان غواړي دا د ډیورنډ کرښه د بین المللي فشار په ترڅ کې پر افغانستان ومني، نو په داسې حال کې بیا جنګ د افغانستان په ګټه نه دی، ځکه له دې جنګ څخه پر افغانستان د فشار اچولو لپاره استفاده کېږي، او که امریکا غواړي د افغانستان او پاکستان ترمنځ سرحدي ستونزې را ایجاد کړي، نو دا بیا د بل چا ګټې دي، چې د هغې لپاره افغان ولس استعمالېږي، نو خلاصه خبره دا ده، چې، باید د هر چا تېری د افغانستان په خاوره هغه که د امریکاوي او که پاکستان باید وغندل شي او دغسې مسایل د ټوپك او وسلې په زور نه حل کېږي، بلکې نور هم ستونزمن او پیچیده کېږي ، دا دې ته اړتیا لري، چې مونږ خپل ځان دومره قوي کړو، چې بل چاته احتیاج نه وو او بیا د خبرو له لارې داسې قضایا حل کړو،

همدغسې قوي موقف د هغو په وړاندې ونیول شي، خو ددې تر څنګ باید دې ته هم متوجه یو، چې هغه مقاصد او اهداف څه دي، چې خلك يې له دې څخه ترلاسه کول غواړي، دغسې مسایل د ټوپك او وسلې په زور نه حل کېږي، بلکې نور هم ستونزمن او پیچیده کېږي ، دا دې ته اړتیا لري، چې مونږ خپل ځان دومره قوي کړو، چې بل چاته احتیاج نه وو او بیا د خبرو له لارې داسې قضایا حل کړو، افغانستان که اوس د جنګ حالت ته داخلېږي، هغه اسباب کوم دي، چې مونږ د هغو په مقابل کې خپل ضروریات پوره کولای شو؟ که د څو ورځو لپاره د افغانستان سرحدونه وتړل شي، هغه کوم وسایل دي، چې د هغو په واسطه د افغانستان حکومت پرخپل ځای پاتې شي؟ اوس زمونږ ټول اتیا نوي فیصده د اړتیا مواد له پاکستان څخه واردېږي، زمونږ ډېر عادي مریضان د تداوۍ لپاره پاکستان ته ځي او که چېرې دوه ورځې د تورخم لاره بنده شي، په لسګونو خلك به دعادي ناروغیو څخه مړه شي، له همدې امله دي چې وایو احساسات ښه دي، خو ټول مسائل په احساساتو نه حل کېږي، باید د افغانستان د تقویې او په خپلو پښو د ودرېدلو لپاره کوښښ وشي او بیا د یوې قوي ډيپلوماسۍ له لارې له یوه قوي موقف څخه د شخړو د رابرسېره کېدو په صورت کې دفاع وشي او مسائل حل شي.

اصلاح: ستاسو په اند که د افغانستان او پاکستان ترمنځ په را تلونکي کې دا ډول شخړې زیاتې اونور جنګونه هم پېښ شي نو افغانستان به تر کومه بریده وکولای شي، چې د خپلو کمو وسایلو په لرلو سره د پاکستان د پوځ په وړاندې مقاومت وکړي؟

دکتور مصباح: زه فکر نه کوم ، چې د دواړو هېوادونو چارواکي به دومره د توطیو ښکار شي، چې هغوی دې جګړې ته نوره هم پراختیا ورکړي، دا جګړه د دواړو هېوادونو په ضرر ده، شخړې او جنګونه ملتونه او هېوادونه تباه کوي، که افغانستان اوس پوځ و هم نه لري، دا د ملي پاڅونونو سره مخ کېدای شي، نو له همدې امله زه په دې یقین یم چې دا جګړه به پراختیا نه مومي او د پراختیا موندلو په صورت کې نه افغانستان او نه هم پاکستان محفوظ پاتې کېدای شي، ځکه د نړۍ نور هېوادونه به مداخله کوي او دواړه هېوادونه به خپلې ګټې او مصالح له لاسه ورکوي.

اصلاح: د افغانستان او پاکستان د ولسونو ترمنځ ګڼ مشترکات وجود لري او د اوسنۍ ستونزې په حالت کې چې ګڼې توطیې هم روانې دي، د دواړو هېوادونو ولسونه ددې ستونزې په حل کې څه ډول کولای شي خپل رول و لوبوي ؟

دکتور مصباح: دا درسته خبره ده، چې جنګ او مشکل هغه نظامونو را پیدا کړي دي، چې دواړه د امریکا په محور را څرخېږي، په دې شخړو کې ملتونه لاس نه لري، هلته که د پاکستان د پوځ پوستې رامخې ته کېږي هغه هم د یو خاصې ډلې او حاکمې طبقې په اشاره کېږي او دلته هم ډېر شیان د پردیو په اشاره ترسره کېږي، دا ټول شیان د حاکمو ډلو لخوا رامنځ ته کېږي، د افغانستان او پاکستان ملتونه سره ډېرې نژدې اړیکي لري او یو بل سره پېژني او ښه یې درك کوي او د یو بل په وړاندې ښه احساسات لري، د دوی دواړو ترمنځ د روابطو د زیاتېدو کوښښ باید وشي، او د رسنیو لخوا د تاو تریخوالي د زیاتولو مخه ونیول شي، او د هغو رسنیو چې هغه د دې دواړو ملتونو ترمنځ د فاصلو د ایجادولو کوښښ کوي، هغوی باید مهار کړای شي، دغه رسنۍ، باید مهار کړای شي او ددې پرځای چې منفي رول ولري، باید د ملتونو ترمنځ مثبت رول ولوبوي او دا ملتونه باید سره را نژدې کړای شي، ځکه د ټولې دنیا هېوادونه او ملتونه په ارامه فضاء کې ژوند کوي مونږ ولې همېشه په یوه داسې فضاء کې پاتې شو، چې هلته شخړې او یو بل ته په ماشه ناست وي، دا اوسني داخلي ستونزې کمې دي، چې اوس مونږ نور هم ایجاد کړو؟ نو باید د ملتونو ترمنځ روابط زیات او د فاصلو د کمولو کوښښ وشي.

اصلاح: تاسو رسنیو ته په اشارې سره وویل، چې یو شمېر رسنۍ ستونزې را ایجادوي او د دواړو ملتونو ترمنځ فاصله ایجادوي، ستاسو په اند دا رسنۍ په خپل سر دا کار کوي او که د نورو سیمه ییزو اونړیوالو حلقاتو لخوا، لکه چې تاسو ورته اشاره وکړه، لمسول کېږي؟

دکتور مصباح: په افغانستان کې خو یو شمېر رسنۍ د نورو لخوا تمویلیږي، چې هغوی هم دلته خپلې اقتصادي ګټې لري، د افغانستان د بازار پر سر شخړه روانه ده، چې دا بازار باید څوك ډك کړي، ځکه لوی بازار دی پرته له دې چې کوم تولید ولري، نو ددې د ډکولو لپاره، زمونږ دوه ګاونډي هېوادونه په خپلو منځونو کې شدید رقابت لري او هر جهت کوښښ کوي، چې د مقابل اړخ په وړاندې تاوتریخوالی زیات کړي او د هغوی اثرات کم کړي او د اقتصادي بازار هغوی ته په لاس ورشي، پدې کې څه رسنۍ هم کوښښ کوي او څه بیا د نړیوالو ځواکونو لخوا شاید دې ته وهڅول شي ، ځکه هغوی په راتلونکي کې دلته د خپل ځان د ثبات او تضمین لپاره داسې څه ایجادول غواړي، چې په هغه کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ یو تصادم فضاء وي، او لکه څنګه، چې مخکې مو وویل، پاکستان د هند پر ځای دې خوا ته متوجه شي، نو دغه د تصادم فضاء د ایجادولو مسؤولیت هم دغه رسنۍ په غاړه لري، له همدې امله ډېرې رسنۍ د خپل ملي او اصلي رسالت لپاره نه استعمالېږي او نه کار کوي بلکې د هغو جهتونو لپاره کار کوي، چې هغوی یې تمویلوي.

اخلاق رسانه یی از دیدگاه قرآن

پوهنیار عزیز احمد حنیف



از آنجایی که رسانه ها در یک قرن اخیر بیشتر از ابزار دیگر در تغییر و تحول و توجیه افکار عامه در گوشه و کنار جهان نقش داشته اند، دستگاه های سیاسی کشورها و سازمانهای گونه گون به خاطر رسیدن به اهداف شان از وسایل تبلیغاتی متنوع استفاده نموده و خیلی به آن اهمیت می دهند.

اگر با یک نگرش سطحی به بازار رسانه ها درافغانستان نظر بیافکنیم، می بینیم که برخی برای رسیدن به قدرت و حفظ و تداوم آن، گروهی برای فروش اموال تجاری (بازاریابی)، و طایفه ای برای پخش و نشر عقاید و اندیشه های مختلف از آن استفاده می نمایند.

چه فکر می کنید: ده ها تلویزیون و رادیو و صدها نشریه چاپی ای که امروز در مرکز و ولایات افغانستان فعالیت می نمایند، هدف شان چیست؟ آیا تأثیر این رسانه ها را در خلال دوازده سال گذشته بر افکار عامه مردم افغانستان، گاهی بررسی نموده اید که مثبت بوده است و یا منفی؟ آیا این رسانه ها –آنچنان شعار می دهند– ارزشها را دنبال نموده اند و یا مردم را به سوی ذلت و پستی کشانیده اند؟ آیا فکر کرده اید، تلویزیون هایی که امروز تصویرهای نیمه عریان و آهنگ ها وسریال های مبتذل را نشر می نمایند و اعضای یک خانواده مسلمان به خصوص کودکانی که هر آنچه پیرامون خویش می بینند یا می شنوند، به ذهن شان نقش می بندد، بر نسلی که حد اقل ده الی بیست سال دیگر می آید، چه تأثیری خواهد داشت؟ آیا گاهی به عمق اهداف استراتیژیک فکری سازمانها و کشورهای ذیدخل در افغانستان اندیشیده اید که چرا میلیون ها دالر را در بخش رسانه ها هزینه می نمایند؟

این آشفتگی در بازار رسانه های افغانستان طبیعی است که به اساس اهداف بیگانه ها از بیرون وارد گشته و افرادی به عنوان ژورنالیست، روزنامه نگار، گزارشگر و غیره در آن به دکانداری پرداخته اند؛ دکاندارانی که علاوه از همان دریشی و نِکتایی و بوت های پالش شده و موهای دراز و پر از روغن، چیزی در اندیشه ندارد! دکاندارانی که ارزش و ماهیت معنوی قلم را (آنچنان که خداوند به آن سوگند یاد کرده و نخستین پیام قرآن در محور قلم می چرخد) نمی دانند! به همین اساس بحث کنونی را روی اخلاق رسانه یی از منظر قرآن کریم تمرکز داده ایم.

اهمیت کار رسانه یی از دیدگاه قرآن:

فراخواندن مردم به سوی یکتاپرستی و تبلیغ احکام شرعی که وظیفه اصلی پیامبران الهی بوده و رستگاری و سعادت بشر را در دنیا و آخرت تضمین نموده است، نوعی متفاوت از رسم امروزی، کار رسانه یی است. آنچنان که یک ژورنالیست نسبت به نشر و پخش تصویرو تحلیل واقعی از رویدادهای سیاسی و اجتماعی در قبال مردم احساس مسؤولیت می نماید، فراتر از آن، یک پیامبر در تبلیغ واقعی از احکام عقیدتی و عملی ای که از سوی خداوند به وی وحی می شود، در قبال پروردگار و مردم احساس مسؤولیت می کند.

خداوند در سوره مائده در خطاب به پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم می فرماید: (يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ). «ای فرستاده خدا، هر آنچه از سوی پروردگارت بر تو نازل شده است (به مردم) برسان، و اگر چنین نکنی، رسالت خدا را نرسانده‌ای». {مائده/۶۷}.

در این میان وظیفه ی هردو، رسانیدن پیامی است که با خود دارند؛ اگر پیام بلند و انسانی و برخاسته از وحی الهی به هدف سعادت و رستگاری انسانها بود، بدون شک کارمند این رسانه وظیفه گرانمایه انبیای الهی را به دوش کشیده و میراث دار واقعی پیامبران است؛ و اگر پیام یک رسانه در محور گره گشایی رویدادهای سیاسی زمان از روزنه منافع مادی افراد و گروه های آزمند و منفعت طلب –به هدف رسیدن آنان به اهداف غیر ایمانی– می چرخید، در این صورت کار آن رسانه را نمی توان مقدس شمرد.

پس به این اساس، کلمه ی ژورنالیزم در فرهنگ اسلامی، ریشه ای عمیق تر به سرشت و سرنوشت انسانها ومعنایی فراتر و گسترده تر و انسانی تر از آنچه فرهنگ های ساخته و پرداخته بشریت امروزی زیر عنوان دموکراسی و غیره، به جهانیان عرضه کرده است، دارد.

اصول اخلاقی ژورنالیزم:

وقتی وظیفه رسانی یی از دیدگاه شرعی از چنان اهمیتی برخوردار باشد که در بالا تذکر رفت، بدون شک، دین مقدس اسلام برای شخصی که در این عرصه کار می کند اصول و وجایبی را وضع نموده است که گاهی از آن به اخلاق ژورنالیزم تعبیر می گردد، را رعایت نموده و در روشنی آن حرکت کند.

الف: واقعیت نگری

یک ژورنالیست یا خبرنگار وقتی تصویر یا تحلیلی از رویدادها را نقل می نماید، از یک طرف تعهد وظیفوی و از سوی دیگر مسؤولیت شرعی وی ایجاب می نماید تا واقعیت گرا باشد؛ به این معنا که در پردازش ابعاد قضیه، احساس شخصی خویش را به خصوص زمانیکه به سازمان یا گروهی وابسته است راه ندهد؛ بازی کنان طرفهای مختلف رویداد را با نقش مثبت یا منفی هریک به دقت بررسی نموده و به مخاطب معرفی کند.

یک گزارش یا خبر هر قدر که دور از مبالغه و افراط و تفریط و بر واقعیت استوار باشد، به همان اندازه طرف توجه مخاطب قرار گرفته و در توجیه افکار عامه تأثیر مثبت و مستقیم دارد.

قرآن کریم به واقعیت گرایی در تمام عرصه های اجتماعی تأکید نموده و عدالت را مبنا و معیار آن قرار داده است: (وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى). «و هنگامی که سخنی گفتید، دادگری کنید (و از حق منحرف نشوید) هر چند (کسی که سخن به نفع یا به زیان او گفته می‌شود) از خویشاوندان باشد {الأنعام:۱۵۲}.

این تأکید قرآن کریم به واقعیت گرایی، اشاره به اینست که نگارشگر در تهیه خبر یا گزارش تمام پیوندها ومسایل شخصی را کنار بگذارد و خود را در

قبال خداوند و اجتماع انسانی خویش مسؤول و مکلف احساس کند؛ احساس مسوولیت متداوم در قبال خداوند، انسان را به تقوا و پرهیزکاری نزدیک می سازد و روحیه صداقت و واقع نگری را در نهاد انسان پرورش می دهد؛ همانطور، احساس مسؤولیت در قبال مردم، وجیبه ایمانی هر شخص است که باید خود را جزئی از اجتماع بداند و باور داشته باشد که گزارش یا خبری را که به خواننده تقدیم می کند، جامعه را به سوی خیر و صلاح و ارزشهای انسانی و انکشاف و ترقی می کشاند یا به سوی بدبختی و پستی و ذلت سوق می دهد.

ب: دقت و تأمل در صداقت خبر

در بالا یاد آورشدیم که کار رسانه یی به معنای وسیع آن یک وظیفه مقدس است و از این طریق شخص می تواند مردم را به کارهای نیک فرا خواند و از کارهای ناپسند آگاه سازد؛ به همین ملحوظ کارمند یک رسانه هم از ناحیه تعهد به مسلک و هم از ناحیه وجیبه ایمانی سخنی را که در قالب رسانه ای به مردم پیشکش می کند، در صداقت آن باید نهایت به آن دقت و تأمل به خرچ دهد.

خداوند در قرآن کریم به دقت و تأمل روی صداقت خبر تأکید فرموده است: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ). «ای کسانی که ایمان آورده اید! اگر شخص فاسقی خبری را به شما رسانید درباره آن تحقیق کنید، مبادا به گروهی بدون آگاهی (از حال و احوالشان و شناخت راستین ایشان) آسیب برسانید، و از کرده خود پشیمان شوید». (الحجرات:۶)

این یک واقعیت مسلم است که هر قدر یک خبر یا گزارش مبتنی بر صداقت و راستی باشد، به همان اندازه بر اعتماد و اعتبار رسانه می افزاید و تأثیر مستقیم و مثبت در جهت دهی افکار عامه به سوی خیر و صلاح اجتماعی و نیل به اهداف بلند انسانی دارد.

در عین زمان، خداوند از دروغ گفتن به شدت منع فرموده و آن را گناه کبیره خوانده است؛ و تجربه هم نشان می دهد که پی آمد و عاقبت دروغ و دروغگو همواره خطرناک بوده است.

ج: احساس مسؤولیت شرعی

خداوند در آیه ای از قرآن کریم امت محمد صلی الله علیه وسلم را نسبت به سایر امت ها برتر خوانده است و رمز برتری آن را هم در امر به معروف و نهی از منکر و همچنان یکتاپرستی واقعی (آنچنان که خداوند خواسته است)، بیان فرموده است: (كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ). «شما بهترین امّتی هستید که به سود انسانها آفریده شده اید (مادام که) امر به معروف و نهی از منکر می نمائید و به خدا ایمان دارید» {سورهٔ آل عمران/۱۱۰}

سه نقطه فوق (امر به معروف، نهی از منکر و ایمان داشتن به خداوند که در آیه مبارکه ذکر شده است) به گونه ناگسستنی ای بهم پیوند دارند و هیچگاه یکی را از دیگری نمی توان جدا کرد؛ این سه نقطه هیچ گاه از زندگی انسان در هیچ عرصه ای جدایی ندارد؛ اما شخصی که در بخش های مختلف رسانه یی کار می کند، نسبت به هر شخص دیگر از جانب خداوند مسؤول و مکلف است تا هر سخنش و هر حرکتش بر مبنای همین سه معیار قرآنی باشد؛ اگر یک ژورنالیست همین سه امر را معیار کار خود قرار دهد، بدون شک، هدف مقدسی را دنبال می نماید که انجام آن رستگاری و سعادت دنیا و آخرت است.

همانطور خداوند در آیه دیگری فرموده است: (وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ). «باید از میان شما گروهی باشند که دعوت به نیکی کنند و امر به معروف و نهی از منکر نمایند، و آنان خود رستگارند». {آل عمران/۱۰۴}

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم در حدیثی به روایت ابوسعید خدری رضی الله عنه فرموده است: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ». "اگر شخصی از شما امر ناپسندی را مشاهده می کند، (در اندک فرصت ممکن) آن را به دست خویش تغییر دهد، و اگر توان نداشت به زبان خود، و اگر (به زبان هم توان نداشت) پس به قلب خود (آن را ناپسند بداند)؛ و این ضعیف ترین حالت ایمان است" مسلم: ۶۹/۱(۴۹)}

از حضرت عمر رضی الله عنه نقل شده است که گفته است: «خداوند رحم کند بر شخصی که عیب های ما را به روی ما بکشاند.«

بنا بر این، کسانی که در عرصه های مختلف رسانه یی کار می کنند و وظیفه تبلیغ و پخش و نشر اخبار و رویدادها را به عهده دارند، ارزش وظیفه یی و اهمیت مسؤولیت آنها از خلال آیات و احادیثی فوق دانسته می شود.

د: جرئت بیان

جرئت بیان یکی دیگر از مواصفات اخلاقی یک ژورنالیست از دیدگاه اسلام است که در راستای بیان حق و حقیقت نباید از هیچ نیرویی بترسد؛ باید باور داشته باشد که حق آزادی بیان را با تعریف انسانی آن، دین مقدس اسلام برایش داده است و از آن آزادانه و بدون هیچگونه خوف و هراسی استفاده کند.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم در حدیثی که به روایت ابوسعید خدری نقل شده است، می فرماید: «أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ». "بهترین جهاد، سخن عادلانه به حضور پادشاه ظالم است". سنن ابی داود: ۱۲۴/۴ (۴۳۴۴)

در برخی روایات نقل شده است که روزی حضرت عمر رضی الله عنه بالای منبر بلند شد و در خطاب به مسلمین گفت: بشنوید و اطاعت نمایید! شخصی از میان جمع مسلمین برخاست و گفت: نه می شنویم و نه هم اطاعت می کنیم! حضرت عمر رضی الله عنه از وی خواهان دلیل شد، شخص موصوف گفت: پیراهنی که به تن کرده یی اضافه از یک سهمی است که برای سایر مسلمانان در تقسیم غنایم رسیده است. عمر رضی الله عنه اعتراض شخص را خیلی به خونسردی شنید و گفت: این سؤال را فرزندم عبدالله پاسخ می دهد؛ عبدالله فرزند عمر برخاست و گفت: درست است که از یک سهم غنیمت آنچنان که به سایر مسلمانان در تقسیم رسیده است، ممکن نبود که اینچنین پیراهنی ساخته شود، اما من، سهم خویش را برایش بخشش کرده ام.

خلاصه مواصفاتی را که یک ژورنالیست از نظر اسلام باید داشته باشد: امانت داری، صداقت و راستکاری، توازن، انصاف، حقیقت گرایی، واقع نگری، روشنگری در پرتو ارزشهای اسلامی، داشتن جرئت بیان، دقت و تأمل در صداقت خبر، آزادی وجدان، درک ارزشمندی زبان و قلم، رعایت جوانب اخلاقی و انسانی و غیره از جمله ی مسایلی است که رعایت آن برای اشخاصی که در عرصه رسانه ها کار و فعالیت می نمایند، هم از نقطه نظر مسلکی و هم از دیدگاه اسلام، لازمی پنداشته می شود.

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبی

گلبرگهای ادبی

آیا شما هم تسلیم شیطان شده اید؟

شیطان از انواع وسائل و وسوسه ها استفاده میکند تا انسان را از نماز بازدارد و او را از لذت عبادت و اجر و ثواب محروم کند و بسیاری از مردم در این کار تسلیم وی شدهاند، زیرا اولین چیزی که در عبادت از بین میرود خشوع است. در این عصر، که عصر آشوب و فتنه است، گفتار حذیفه در این مورد صدق میکند که فرمودند: اولین چیزی که از دین شما از بین میرود خشوع، و آخرین چیزی که از بین میرود نماز است، و بسیاری از نمازگزاران هستند که خیری در آنها نیست و از نمازشان بهرهای نمیبرند و ای بسا که داخل مسجد شوی و شخص فروتن و خاشعی را در آن نبینی.

چهار ساعات عمرت

امام احمد بن حنبل از وهب روایت نموده که:

«در مکتوبات آل داود آمده است: حق آن است که آدم عاقل از چهار ساعت در عمر خویش غفلت ننماید:

-ساعتی که در آن به ذکر و مناجات با خداوند مشغول شود.

-ساعتی که در آن نفس خویش را مورد محاسبه قرار بدهد.

-ساعتی که با دوستان دلسوز و صادق خویش برای بیان عیوب و ضعفهای یکدیگر خلوت نمایند.

- ساعتی که در آن همه لذایذ و امور مطلوب نفس خویش را ترک کند، زیرا این کار در این ساعت او را به عملینمودن قیام به ادای آن سه مورد قبلی یاری داده و برای قلب او نوعی گردش و تفریح به حساب میآید»

بهترین ثروت ما مردم کشور باشد
هر دماغ بشری معدن جوهر باشد

قیمت شخص زالماس فزون تر باشد
جوهر اصلی ما خوب تر از زر باشد

شیدا

چه شد؟

منشی میمنه گی

کشتزارم سوخت یارب جویباران را چه شد؟
مزرعه آتش گرفته آب باران راچه شد؟
ماه غمگین است و خورشید شاهد سوگ عظیم
آسمان شد تیره اینک ماه تابان را چه شد؟
سبزه زاران خشک و زرد و رهسپاران نا امید
از فلک آخر چه سر زد ما فقیران را چه شد؟
صد چمن بود رنگ و بوی هر گل و خار وطن
گل چرا بی بوی گشته رنگ بستان را چه شد؟
چهره ها ی پیر و برنا خاکی از رنج بزرگ
بر سر پیران چه آمد نوجوانان را چه شد ؟
بخت ما شد واژگون و ریخت سقف بام ما
خانه امید ما امیدواران را چه شد؟
مرد و زن در شهر ما ماتم گرفته ای خدا
مرد و زن دلخون چرا شدسوگواران را چه شد؟
در حریم ملک دل فرمانروا شدا هریمن
همرهان من کجا رفت ،همنشینان را چه شد؟
درب امید دل ما شد شکسته از جفا
دزد در میدان بر آمد پاسبانان را چه شد؟
دست گلچین ظا لمانه گل برید از شاخسار
باغبان در خون نشسته گل پرستان را چه شد؟
لشکر آتش عجب یک تاخت وتازی کردو برد
آبروی ما و من را ،ملک افغان را چه شد؟
جاده تاریک است و مقصد همچنان معلوم نی
رهبران یارب چه کردند رهگشایان را چه شد؟
خر من آمال مردم طعمه نارا ست هنوز
آتش افروزان کجا رفت آبداران را چه شد؟
"منشی" احساس دلم هر گز نه گنجد در سخن
خشک شد اشک قلم آوخ قلمدان را چه شد؟

اړيکې: habibi@eslahonline.net

ومعلوماتې

په ستونزو د بریا نبوي نسخه

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ستونزو د بریا اصول داسې بیانوي:
• «احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ» د هغه څه په لټه کې شه چې ګټور وي.
• «وَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ» له الله تعالی نه مرسته وغواړه.
• «وَلاَ تَعْجِزْ» (لاتمل من المحاولة) نا امیده او ستړی کېږه مه.
